BØRN OG UNGE
Aarhus Kommune



# READ

## – په ۲ ټولګي کې په ګډه لوست

محترمو والدینو،

له دې بکسې سره مونږه غواړو تاسو و هڅوو چې څنګه خپل ماشوم سره لوست وکړئ او په نتیجه کې د خپل ماشوم د لوستلو مهارتونو د ودې حمایه وکړئ. ستاسو ماشوم به ډیر لوست سره او په لوړ غږ لوستلو سره په لوستلو کې ښه شي.

دا بکسه شپږ بیلابیل کتابونه لري:

- Rumleskaft (رمپل سټلټسکین)
- Viola i tårnet(وایلون په برج کې)
- واړه حقیقتونه: Sol, måne og stjerner (لمر، سپوږمی او ستوري)
- Kanin (سوی)
- Anton, Rosa og ræven (انتون، روسا او ګیدړ)
- Lillebror (højtlæsningsbog) (کوچنی ورور) (په لوړ غږ کتاب لولي)

د فولډر محتویات:

- یوه رساله چې د لوست اهمیت په اړه خپل ماشوم سره یې لوستلی شئ.
- او توضیحات (د خپل ماشوم سره څنګه لوست وکړو) د ځانګړو معلوماتو سره چې څنګه خپل ماشوم سره یو ځای لوست وکړو
- پاڼه: (څنګه د خپل د ماشوم د کلیمو د لوست ملاتړ کولی شئ)
- (زما کتاب)
- د READ اپلیکیشن په اړه توضیات، چیرته چې تاسې هر ځل د یو ځایي لوست څخه وروسته ځان ثبتولی شئ. اپلیکیشن د ننه کیدل به بکسې سره یو ځای درکړل شي.

کله چې تاسې پای ته ورسول، نو دا بکسه او کتابونه به بیرته سپارئ. تاسې کولای شی چې د فولډر مواد له ځان سره وساتی. ورکړل شوې لارښوونې د یخچال په دروازه ولګوئ.

تاسې د لوستلو په هکله نور مواد هم لوستلی شی – په www.aarhus.dk/read ویب پاڼه کې په ګډه لوستل. دلته تاسې فلم ، لوست – په ګډه لوستل، همدارنګه رانګه رساله او داسې لارښوونې موندلی شی چې په بیلابیلو ژبو ژباړل شوي دي. له لوستلو یې خوند واخلی!

له لوست څخه خوند واخلئ!

په درنښت

ماشومان او لویان

د آرهوس ښاروالي